شریعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریک مرکزی نشراتی ارگان

دوهم کال دیرشمه گـنـه پرله پسي (۸۰) — چهارشنبه د۱۳۷٦ هـ ش کال د زمري دمباشتي (۸) — د۱۹۹۷میلادي کال جولاي (۳۰) — د۱٤۱۷هـ ق کال د ربیع الاول (۲٤)

فرمان الهی

پس باید پیکار نمایند کساني کـه زندگي دنیـا را در بدل آخرت میفروشند و کسي که در راه خدا«ج» مي جنگد، پس کشته میشود یا پیروز میگردد به وي مزد بزرگ میدهیم. و چیست شما را که پیکار نمیکنید در راه خدا و براي خیر بیچارگان از مردان و زنان و کودکان آنانیکه میگویند: اي پروردگار ما برون آرما را از این قریه که ستمگار اند اهل آن و مقرر کن براي ما از نزدیك خود کار سازي و مقرر کن براي ما از نزدیك خود یاري دهنده اي (النسا ۷٤-۷۵)

نبوی ارشاد

د محـمـدي"ص" د بعثت نه تر هغه وخته چي د محمدي امت وروستني افراد له دجال سره جگړه کوي جهاد دوام لري ظالم او عادل بادشاه یي له منځه نشي وړلي او د خداي په مقدراتو عقیده لرل هم د ایمان اصل دي. (ابو داود)

تذکر خطر ایمان است اگـر به این کلمات مقدس بي حرمتي کنید.

متن بیانیه رادیوئی محترم ملا محمد حسن اخند معاون شوراي سرپرست دولت اسلامي افغانستان به ارتباط وضع جاری کشور

هموطنان عزیز! دشمنان اسلام وظیفه کفار قریش را به دوش گرفته و براي تشویش اذهان ملت مؤمن افغان دست به تبلیغات زهراگین میزنند

باید دشمنان ما بدانند و لو قطره، خونی در بدن داشته باشیم همیش از دین خداوند و ملت مؤمن و مسلمان افغان دفاع خواهیم کرد

الحمد لله الذي هدنا للایمان و السلام والصلاة والسلام علي نبینا الذي استنقذنا عن عبادة الاوثان والاصنام و علي آله و اصحابه النجباء البرره الکرام.

اما بعد فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم – بسم الله الرحمن الرحیم- الذین استجابو لله والرسول ...

قربانیان محترم دین خدا مجاهدین سر بکف تحریك طلباي کرام در هر جاي که هستید و در هر گوشه که قرار دارید و در هر سنگر و هر کوه و دمن که مي باشید همه را السلام علیکم و رحمة الله و برکاته میگویم.

خداوند عزوجل توسط شما و توسط تکالیف و قرباني هاي شما بر همه جهان اسلام قانون زیبا و منور الله عزوجل را حاکم گرداند و پروردگار عالم ... (بقیه په ... مخ)

عالیقدر امیر المؤمنین د جبهي د لومړي کرښي دوه تنه قوماندانان خپل حضور ته ومنل

جناب عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د رواني میاشتي په پنځمه د امارت په مقام کي د بادغیس ، فاریاب د جبهي د لومړي کرښي قوماندان محترم حاجي امیر محمد اغا او محترم قوماندان ملا عبدالکبیر بغراني خپل حضور ته ومنل .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دي کتنکي چي د امارت په مقام کي تر سره شوي عالیقدر امیر المؤمنین د ددي قوماندانانو د کار راپور واورید او د جنگي محاذ د لا پرمختیا لپاره یي ورته لازمي لارښووني وکړي په خبر کي ویل شویدي چي له محترم امیر المؤمنین نه د لازمو لارښوونو د تر لاسه کولو وروسته محترم ملا عبدالکبیر بغراني د کفر او فساد د ځالو د له منځه وړلو په خاطر له مجاهدو او دړنو طالبانو سره د اوږه په اوږه جنگیدلو په خاطر کابل ته راروان شو .

د خوست ولایت شریفو او مجاهدو خلکو د جبهي لمړیو کرښو ته ورتگ ته خپل تیاري څرگند کړ

د خوست ولایت د بیلا بیلو قومونو عالمانو مجاهدینو او قوماندانانو د بوي شالداري غونډي په جوړولو سره چي ددغه ولایت په جامع جومات کي جوړه شوه د جبهي د لومړیو کرښو له مجاهدینو سره د پیوستون په خاطر خپل بشپړ تیاري اعلان کړ .

د باختر د اطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړ په غونډه کي له هغه وروسته چي د قرآن عظیم الشان څو ایتونه ولوستل شول د خوست والي محترم حاجي سید عبدالله اغا ، محترم مفتي سردار محمد، محترم مولوي حمد الله او محترم مولوي عبدالحي په وار سره د نورو په نمایندگي خبري وکړي او زموږ د هیواد په کورنیو چارو کي یي د ایران روسیي او د هند د هیوادونو لاس وهني وغندلي او د وروستیو جگړو عاملین یي د هغوي لاس په نامه نوکران وبلل . دوي د خپلو خبرو په ترڅ کي یو ځل بیا د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل بشپړ پیوستون څرگند کړ او ژمنه یي وکړه چي موږ هره شیبه تیار یو چي د ملحدو کمونیستانو او د شر او فساد د عناصرو د وروستیو بقایاوو د له منځه وړلو په خاطر د افغانستان د اسلامي اردو له مجاهدینو سره اوږه په اوږه د جگړي د جبهي لومړیو کرښو ته لاړ شو او د افغانستان د مسلمانو خلکو په وړاندي خپل ملي او اسلامي پور ادا کړو . غونډه د الله اکبر په ناړو سره پای ته ورسیده .

نقاط ستراتیژیکي کلکان و بگرام از تصرف عناصر کمونیست و مؤتلفین برآمد

در نتیجه یك عملیات برق اسا مجاهدین اردوي اسلامي نقاط ستراتیژیکي کلکان و بگرام از تصرف عناصر کمونیست و مؤتلفین بر آمد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : نیرو هاي اردوي اسلامي و مجاهدین یك عملیات تصفیوي را به استقامت بگرام راه اندازي نموده که به نصرت الهي به ملیشه هاي بدنام کمونیست و ائتلافي تلفات سنگین جاني و خسارات هنگفت مالي وارد نموده نقاط مهم ستراتیژیکي را در اطراف کلکان و بگرام به تصرف خویش در آوردند .

دشمن در این منطقه به شکست مواجه گردیده تاب مقاومت را در برابر نیرو هاي اردوي اسلامي از دست داده در حال فرار میباشند . مجاهدین با اشغال مناطق متذکره مصروف استحکام مواضع و سنگر هاي شان بوده با باور کامل به نصرت الهي آماده سرکوب دشمنان میباشند .

طبق یك خبر دیگر یك تعرض ملیشه هاي منفور خلیلي در مربوطات ولسوالي غوربند به شکست (بقیه په ... مخ)

د کابل ولایت د څارنوالي منوبینو او د بگرامیو د ولسوالي خلکو د دفاع په لاره کي خپل تیاري څرگند کړ

د کابل ولایت د څارنوالي منسوبینو د بوي غونډي په ترڅ کي د افغانستان د اسلامي دولت د دفاع په لاره کي خپل تیاري څرگند کړ .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ غونډه د قران پاك دڅو ایتونو په لوستلو سره پیل شوه وروسته د کابل ولایت د څارنوالي رئیس محترم مولوي نعمت الله محمدي د افغانستان د اسلامي دولت د هدفونو او د ملحد او کمونیست عناصرو د اسلامي ضد لیدلو په باب خبري وکړي بیا څو تنو د نورو په نمایندگي د افغانستان د اسلامي دولت د دفاع په لاره کي خپل تیاري څرگند کړ .

غونډه په ټول افغانستان کي د محمدي غرا شریعت د تحقق په باب د دعایي په لوستلو سره پاي ته (رسیدلې)

د منگلو د قوم په ملگرتیا اتل مجاهدین میدان ښار ته ورسیدل

د منگلو د قوم په ملگرتیا تنه دیندار او اتل مجاهدین پدي وروستیو وختو کي د شر اچوونکو ملیشو او د ایراني او روسي مزدورانو د ځپلو په لاره کي میدان ښار ته ورسیدل .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ چي د منگلو د قوم دري سوه تنه اتل مجاهدین پدي وروستیو وختو کي د قاري محمد اسمعیل په مشري میدان ښار ته ورسیدل او پاکـــــل شوي ده ډیر ژر به د ملحد او کمونیست د عناصرو او د شر اچوونکو مزدورانو او ایراني اجیرانو د ځپلو په لاره کي د باطل پر خلاف د حق د جگړي جبهو ته لاړ شي

دغو هوسا مجاهدینو د لوي خداي «ج» په وړاندي او د افغانستان د اسلامي دولت مشرتابه ته ژمنه وکړه چي د خپل ژوندانه تر وروستي سلگي پوري د اسلامي دولت او د هیواد د ملي واکمني او خمکني بشپړتیا د دفاع کوي او اجازه نه ورکوي چي د خلیلي مفسد لښکر د میدان ښار د زړه ورو او دیندارو خلکو په برخه لیك باندي واکمن شي او د دغو سیمو امنیت گډوډ کړي .

ددغو سر سپارلو مجاهدینو په ترکیب کي چي لوي بي د باطل پر خلاف د حق د جگړي د گروپونو ته ورداتگلي دي محترم ملك گلاب شاه ، ملك نیازي . (بقیه په ... مخ)

د خاځیو د آریوب ولسوالي خلکو د افغانستان له اسلامي دولت سره یو ځل بیا خپل ملاتړ څرگند کړ

د پکتیا ولایت د خاځیو د اریوب ولسوالي عالمانو مشرانو او سپین ږیرو د بوي پراخي غونډي په ترڅ کي د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ او پیوستون یو ځل بیا څرگند کړ .

د باختر اطلاعاتي آژانس د خبر له مخي په هغي ستره غونډه کي چي له هستدي اصله په دغي ولسوالي کي جوړه شوي وه د اریوب ولسوالي په سلگونو تنو دیندارو او شهیدپالو خلکو، عالمانو، مجاهدینو او ددغي ولسوالي امنیه قوماندان گډون کړي ؤ او د قران عظیم الشان د څو آیتونو له لوستل کیدو وروسته محترم مولوي گل الرحمن د نورو په نمایندگي د افغانستان د اسلامي دولت د شرعي هدفونو او پروگرامونو په باب خبري وکړي او د افغانستان د اسلامي دولت دستنو د ټینگښت او پراختیا په لاره کي یي خپل (بقیه په ... مخ)

د عدلیي وزارت سرپرست په میدان ښار کي د جگړي لومړي کرښي وکتلي

د عدلیي وزارت سرپرست او د افغانستان د اسلامي دولت د اداري کمیسیون مسؤول محترم ملا نور الدین ترابي په میدان ښار کي د جبهي لومړي کرښي وکتلي .

د باختر اطلاعاتي آژانس د خبر په اساس محترم ترابي د میدان وردك ولایت د جلریز په ولسوالي کي د جبهي په لومړیو کرښو کي د اسلامي اردو د مجاهدینو د استحکاماتو او سنگرونو د کتني په ترڅ کي د جبهي قوماندان محترم الحاج غلام محمد هوتك او د جبهي په لومړیو کرښو کي د اسلامي اردو د میشتو قطعاتو او جزوتامونو اکمالاتو مسوول محترم حاجي عبدالستار آغا ته دنده وسپارله چي د دښمن وروستي حالي دري وري کړي او ماتي خوړلي دښمن ته ددي مجال ور نه کړي چي ددغي ولسوالي د خلکو د سوله ییز ژوندانه په گډوډولو (بقیه په ... مخ)

د جوانان میهن د فوټبال ټیم د اتلي جام وگاټه

د باختر اطلاعاتي آژانس د خبر له مخي د فاینل په هغي لوبه کي چي د جوانان میهن او د پامیر کلب د فوټبال د ټیمونو تر منځ د کابل په ملي ورزشي لوبغالي کي وشوه لوبه د صفر په مقابل کي په دوو سره د جوانان میهن د ټیم په گټه پاي ته ورسیده او د پامیر کلب د فوټبال ټیم د فوټبال په هغو لوبو کي چي پدي وروستیو وختو کي د الف د ډلي د ټیمونو تر منځ وشوي په دوهم ردیف کي ځاي (بقیه په ... مخ)

د کابل ښار د بیلا بیلو سیمو دیندارو خلکو د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ څرگند کړ

د هودخیلو د کلي دیندارو او مسلمانو خلکو د کورنیو چارو وزارت له مسوولینو سره د کتني په ترڅ کي د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ او پیوستون اعلام کړ .

د باختر اطلاعاتي آژانس د خبر له مخي ددغي کتني په بهیر کي د کورنیو چارو وزارت د لوژستیك ، بشوني او روزني او د قاچاقو د بندولو د ریاستونو مسؤلینو په وار سره د افغانستان د اسلامي دولت د هدفونو او ارزښتونو په باب په تفصیل سره خبري وکړي او د محمدي غرا شریعت په رڼا کي یي را منځ ته شوي د امن شرایط دوي ته بیان کړل .

په سلهاؤ مجاهدین لمړیو کرښو ته د تگ لپاره چمتو شول

د بوي پراخي غونډي په ترڅ کي د زابل ولایت د شاه جوي ولسوالي نهه سوه تنه خلك حاضر شول چي د شر او فساد د عناصرو د ځپلو په خاطر د باطل پر خلاف د حق د جگړي جبهو ته لاړ شي .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د زابل ولایت د شاه جوي ولسوالي عالمانو مشرانو او مخورو د بوي پراخي غونډي په ترڅ کي د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ او پیوستون څرگند کړ او د ... (بقیه په ... مخ)

د سویډن موسسه خپل مرکزي دفتر کابل ته رانقلوي

د پلان وزارت سرپرست محترم قاري دین محمد سویډن د کمیټي له استازي شاغلي سودني سره وکتل .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ پدي کتنه کي د سویډن د کمیټي استازي د خپلي مؤسسي د فعالیتونو د څرنگوالي په باب څرگند ونې وکړي او وې ویل چي په نږدي راتلونکي کي به د افغانستان څوریدلو خلکو ته د اسانتیاو د برابر ولو په خاطر خپل مرکزي دفتر له پاکستان نه کابل ته ولیږدوي .

مداخلات ایرانیان در امور داخلي کشور توسط اهل تشیع شهر کابل تقبیح گردید

موسفیدان ، علما و متنفذین اهل تشیع شهر کابل طي محفلي ضمن حمایت و پشتیباني از دولت اسلامي افغانستان سهمگیري و همکاري همه جانبه شانرا در تحقق برنامه هاي دولت اسلامي شان ابراز کردند .

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد در محفل محترم آیت الله تقدسي محترم حیدري و محترم مهدوي به نمایندگي از دیگران صحبت نموده مداخلات و تبلیغات دروغین کشور ایران را در رابطه به دولت اسلامي افغانستان تقبیح نموده آنرا دشمني آشکار با مردم افغانستان خواندند همچنان آنها همکاري ت... (بقیه په ... مخ)

عده کثیري از مجاهدین ولسوالي شیندند آمادگي شانرا غرض اشتراك در سرکوبي ملیشه هاي باغي ابراز داشتند

جوانان ولسوالي شیندند ولایت فراه با ابراز جذبات اسلامي و نعره هاي الله اکبر آمادگي شانرا جهت عزیمت به خطوط مقدم جبهات ابراز کردند .

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد در محفل که بهمین مناسبت در آنولسوالي برگزار شده بود محترم ملا سراج الدین اخند وعده دیگري از علما در رابطه به جنایات مخالفین دولت اسلامي افغانستان این نوکران اجنبي ها توضیحات داده چهره هاي واقعي و شیطان صفت آنها را بر ملا ساختند .

آنها از مردم خواستند تا در سرکوبي بقایاي کمونیزم ، مفسدین و دشمنان مردم مومن و مسلمان افغانستان از هیچگونه ایثار و فداکاري دریغ نورزند .

در ختم محفل تعداد کثیري از جوانان آنولسوالي با شور و شعف اسلامي و نعره هاي الله اکبر اظهار آمادگي کردند که جهت سرکوبي ملیشه هاي شر و فساد عازم خطوط مقدم جبهات گردند .

یوه اندازه وسلي او مهمات تر لاسه شول

یوه اندازه وسلي او مهمات چي له هیواد نه بهر ته لیږدول کیدل په دي وروستیو وختوکي د خوست ولایت په مربوطاتو کي تر لاسه شول .

په دغو وسلو کي چي په یوه لاري موټر کي د پغمان په ولسوالي کي بار او د خوست ولایت له لاري بهرنه لیږدول کیدل اووه کلاشینکوفونه ، یو څلویښت دزي ، یو جاغور لرونکي ټوپك، د کلاشینکوف دوه اتیا ... (بقیه په ... مخ)

نخستین جلسه کمیسیون مختلط ارزیابي در مقر کمیسیون عالي مبارزه علیه مواد مخدر دایر گردید

نخستین جلسه کمیسیون مختلط ارزیابي ارگانهاي ذیربط دولتي بمنظور اتخاذ تصمیم و تعیین ستراتیژي منع زرع، تولید و استعمال ناجایز مواد مخدر در مقر کمیسیون عالي مبارزه علیه مواد مخدر دایر گردید .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در جلسه سکرتر جنرال کمیسیون عالي مبارزه علیه مواد مخدر گزارش این کمیسیون را در رابطه به منع زرع تولید و ترافیك مواد مخدر در منطقه قرائت نمود .

بعداً محترم مولوي رحیم الله زرمتي معین نشراتي وزارت اطلاعات و کلتور رئیس دیپارتمنت حقوقي انستیتوت قانون گذاري وزارت عدلیه و رئیس عمومي ترویج وزارت زراعت پالنویه پیرامون موضوع (بقیه په ... مخ)

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه!

کابل غیر نظامي او که تخلیه ؟

په افغانستان کي د شر او فساد دلي، د کشتمند ملیشه او گلم جمان له هغه وخت نه چي کابل ته د طالبانو د اسلامي تحریك خواکونو امن او آرامي له خانه سره راوړي ده وخت ناوخته دغه فریاد کوي چي کابل دي غیر نظامي شي ، که د خبرو اترو یادونه کیږي نو بیایي دغه تکي لومړي شرط وي . په تیره خو بیا د پروان ددغو وروستیو پیښو په موده کي دیر زیات ټینگار ور باندي کوي !

که له غیر نظامي نه مطلب دا وي چي په هره کوڅه، هره څلور لاري او د هر دفتر په څنگ دي پوستي، توپکیان، توپونه او ټانگونه‌وي لکه چي د شر او فساد د اداري په وخت کي وو نو په دغه معني خو د طالبانو اسلامي دولت له پیل نه کابل غیر نظامي کړي دي، ټول درانه ښاریان او له بهرنه راغلي خلك له هغو آفتونونه په ارام دي – الحمد لله– چي د دوي په وخت کي وو، او که یي مطلب د کابل بیخي تخلیه وي او غواړي چي کابل دي – معاذ الله– یو ځل بیا د دوي د چنگیزي ظلمونو، فسق او فساد ډگر شي– لکه چي کله کله صریحاً هم تخلیه یادوي– نو بیا خو د هغه لوبي تکرارول مطلب دي لکه تیر څلورتیم کاله چي مظلومو افغانانو په تیره د کابل ښاریانو د دوي له لاسه هغه څه وزغمل چي تاریخ یي ساري په یاد نه لري او تولي نړۍ یي ننداره وکړه!

د هغي لوبي تکرار ته به – له هغو پخوانیو لوبغاړو او د دوي (دوهم مخ)

همشهریان عزیز کابل! به یاد آورد واقعات عبرت انگیز و تراژید چهار و نیم سال گذشته، زمامداری اداره ائتلافی ربانی، مزاری و دوستم شما را از پیش کرده بیش به مسؤولیت های دینی و ملی تان به ارتباط وضع جاری کشور متوجه خواهد گردانید

احمد شاه ((وحدت)) Ahmad Shah (Vahdat) A. K. P. O.

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ
په پاکستان کې (۲) کلداري
آدرس : کابل وزیر اکبر خان مینه / سرک۱۱ / کور (٥٢٠)
تیلفون : ۲۱۲۸۱ - توزیع و شکایات ٦٢٨٥٩
پوست بکس : (٤٧١)
په پیښور کې : دطالبانو نمایندګی / تیلفون: ٨٤٤٢٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧

د سرمقاله پاتې برخه

له بهرنیو باداراتو پرته- کوم بو افغان زړه ونیولای شي؟ په نوره نړۍ کې چې څوك د افغانانو تباهي نه غواړي ځرنګه به وکولاي شي دغه تباه کوونکي، د بشر د حقونو او بین المللي تعاملاتونه مخالف شرط معقول او عملي وبولي؟ که د افغانستان اسلامي دولت د خیرو اترو لپاره د اسیرانو د تبادلې او د اور بند شرطونه وړاندې کوي دا هغه شرطونه دي چې د بشري حقونو پالل، د دواړو خواوو ګټې ورسره په پام کې نیول شوي، معقول، اسانه او عملي شرطونه دي، که بالفرض خبرې اترې نتیجې ته ونه رسیږي لا بیا به هم دغه شرطونه ګټه ولري، د دواړو خواوو په ستونځو اخته ملګري او د هغوی خپلوان به له خور او کړاو نه وژغورل شي د جنګ شر به د اوربند په موده کې زموږ د خلکو له سر نه کم شي، او که بې ثبت سم ؤ نو خبرې هم نتیجې ته رسیدلاي شي؛ مګر ځرنګه چې د افغانستان اسلامي دولت د افغانستان د ټولو پرګنو، قومونو او ملیتونو غوښ ملاتړ له خانه سره لري، عملاً یې کلکه ملا ورسره تړلې ده او د افغانستان له دوه و برخونه په زیاته ساحه له پلازمینې (پایې تخت) سره عملاً کنترول لري نو د شر دلي خپله راتلونکي تیاره، بې باوره، او د خپلې مرۍ لپاره چاره په اوبو کې وینې نو ځکه ګډې ودې خبرې کوي، د مذاکراتو پایله (نتیجه) د خان په خیر نه ویني، کله یې ردوي او کله ناشونې او غیر عملي شرطونه وړاندې کوي، د جنګ له لارې نه یې هم په دا ډېر وخت او ډېرو جنګونوکې له خاني او مالي تلفاتو، له رسوایي او د ملت له کرکې نه پرته داسې څه نه دي تر لاسه کړي چې راتلونکي ته یې تمه او باور پیدا شي؛

بربېره په دې: ځرنګه چې دوی - د یوې عقیدې او یوه فکر خلك نه دي نه یواځې دا چې خپل منځي اړیکي یې سره نږدې نکړای شواي بلکې ورځ په ورځ یې تر منځ کرکه، لرې والي او اختلافات ډېریږي لکه چې د ایتلافونو خاصیت دي هره ډله خپلې ګټې او خپله بر لاسي غواړي، کټونکي په دې باور دي چې ایراني چارواکو له ډېرو زیارونو سره سره ونه کړای شول چې د عبدالمالك او احمد شاه نامسعود تر منځ نږدې والي راولي!

تر ټولو غټه ستونزه یې دا ده چې ټول ملت کرکه ور ځخه کوي ان تر دې چې خپل قومونه هم ور ځخه بېزاره دي یو له دې امله چې د هیچا په سر، مال او ناموس یې صرفه نه ده کړې بل دا چې خلك هیڅ ارامي ته نه پرېږدي، د ملت د کرکې او نفرت بل لوی عامل دا دي چې افغان مجاهد او مسلمان ملت په هیواد کې د شرعي نظام د پوره تطبیق ارمانجن دي او همدا یې د لکونو شهیدانو (رحمة الله علیهم) ارمان دي او په همدغه تمه د طالبانو له اسلامي تحریك او دولت سره کلك ولاړ دي، د شر او فساد ډلې، د کشتمند ملیشې او ګلم جمان په عیاشي، مزو چرچو، له پردیو ښځو سره په ناسته ولاړه او ناروا راشه درشه اخته او اموخته دي، حلال او حرام مال ورپاندې یو رنګه دي له دې امله د اسلامي شریعت پوره نفاذ ته ځان نه شي نیولای په تېره بیا اسلامي حجاب خو زهر قاتل ګڼي، نو ځرنګه به د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت چې د شرعي احکامو د پوره نفاذ ارمانجن دي دوی ته زړه ور وري او ورسره و به دریږي؟ دا هیڅ نه شي کیدای؟

نو ځکه دغه دلې خپله راتلونکي تیاره ویني، سم تصمیم نشي نیولای او لیوني هڅې کوي.

والله یقول الحق و هو یهدي السبیل

چند نکته در مورد بعثت و سیرت پیغمبر اکرم محمد ﷺ

چهارده قرن پیش جهان انسانیت در حالي میزیست که از دین، توحید نامی بیش نه مانده بود و مردم از یگانه پرستي و خدا شناسي بکلي دور مانده و آداب انسانیت و عدالت از جامعه، آنان رخت بر بسته بود و در شبه جزیره، عربستان که محل خانه، خدا موطن دین ابراهیم بود کعبه، مشرفه، به بتخانه و دین ابراهیم به بت پرستي تبدیل شده بود.

زندگي عرب زندگي قبایلی بود و حتي چندین شهر که در حجاز و یمن و غیر اینها داشتند به همان ترتیب اداره میشد، جماعت عرب در پست ترین شرایط و عقب افتاده ترین اوضاع و احوال میزیستند بجاي داشتن فرهنگ بي عفتي و عیاشي و شراب خواري و قمار در میان آنان امري رایج بود، دختران را زنده بگور میکردند و براي آنان کوچکترین حقوقي قایل نبودند، زندگي بیشتر مردم از راه دزدي و راهزني و قتل و غارت اموال و مواشي و چهارپایان هم دیگر تامین میشد، خونریزي و ستمگري بالاترین افتخار بشمار میرفت.

در چنین محیطي خداي مهربان و بخشاینده پیغمبر اکرم ﷺ را براي اصلاح جهان و رهبري جهانیان بر انگیخت و قرآن را که مشتمل بر معارف حقه و خدا شناسي و اجراي عدالت و پند و اندرز هاي سودمند بود بروي نازل فرمود و آن حضرت را مامور ساخت که با ان سند آسمان مردم را بسوي انسانیت و پیروي از حق دعوت کند و بدین ترتیب از حضرت محمد ﷺ در حالیکه چهل سال از عمر شریف شان میگذشت براي مقام رسالت برگزیده شد و اولین سوره، قرآني «سوره اقرأ باسم ربك...» بر وي نازل گردید و مامور دعوت و تبلیغ مردم شد.

اولین کسیکه به پیغمبر خدا ایمان آورد بي بي خدیجه کبرا خانم وي بود. محمد ﷺ بعد از دعوت پنهاني بدعوت علني و عمومي پرداخت؛ ولي از ناحیه، مردم با یك مقاومت و سرسختي عجیب و طاقت فرسایي مواجه شد مردم مکه با خوي وحشیگري و عادتي که به بت پرستي داشتند در مقام دشمني و لجاجت بر آمده و از هیچ گونه ازار و شکنجه و استهزا و اهانت نسبت به آن حضرت و پیروانش خود داري نمیکردند و هر روز بناداني و سخت گیري خود مي افزودند.

هرچه فشار و سخت گیري مردم بالا میگرفت؛ پافشاري آن حضرت در دعوت خود و صبر و بردبارش در برابر محنت آشکار تر میشد و هرگز از دعوت خود عقب نشیني نمیکرد و تدریجاً بشماره، پیروان اسلام مي افزاید.

پیغمبر اکرم در اخلاق کریمه، خود انگشت نماي دوست و دشمن بود، در حسن معاشرت آنهمه آزار و شکنجه و بد رفتاري که از دشمنان ستکار و دوستان نادان خود میدید هرگز خم به ابرو نمي آورد و اظهار دلتنگي نمیکرد. به زنان کودکان و زیر دستان در سلام پیشي میگرفت. از هنگامی که از جانب خداوند«ج» ماموریت تبلیغ دین و هدایت و رهبري مردم را پیدا کرد لحظه اي در انجام وظیفه غفلت نکرد و در کوشش خستگي ناپذیر خود از پاي ننشست. سیزده سال پیش از هجرت که در مکه بود با گرفتاري طاقت فرسا که از ناحیه مشرکین عرب داشت پیوسته به عبادت و تبلیغ دین خدا اشتغال داشت. و در ده سال بعد از هجرت با گرفتاري هاي روز افزون که از ناحیه دشمنان دین داشت و کار شکني هاي که یهود و منافقان مسلمان نما میکردند، معارف دین و قوانین اسلام را با وسعت حیرت انگیزي که دارد بمردم رسانید و بیش از ۸۰ غزوه با دشمنان اسلام نمود.

علاوه بر آنکه اداره، امور جامعه اسلامي را که در آن موقع شامل همه، شبه جزیره میگردید به عهده داشت. حتي به شکایتها خواست ها و نیازمندي هاي جزئي مردم، بي حاجب و دربان شخصاً رسیدگي میکرد.

در شهامت و شجاعت پیغمبر اکرم ﷺ این اندازه بس که یکه و تنها در برابر جهان آنروز که چیزي جز، زورگویي و حق کشي حکومت نمیکرد، با دعوت حقه قد علم کرد و آن همه شکنجه و عذاب که از ستمکاران وقت دید، هرگز در وي سستي و دلسردي ایجاد نکرد و در هیچ جنگی پا به عقب نگذاشت.

پیغمبر اکرم ﷺ عفت نفس عالي داشت. در زندگي خود زي فقرا را داشت و ساده زندگي میکرد و میان او و خادمان و غلامان او فرقي بنظر نمیرسید و آنهمه اموال خطیر که بدستش میرسید به فقرا، مسلمانان بذل میکرد و توشه، کمي نیز براي زند گي خود و اهل خانه، خود بر میداشت. حتي گاهي روز ها میگذشت و از خانه، وي دود بلند نمیشد و غذا پخته اي تهیه نمیگردید.

در زندگي به نظافت و مخصوصاً عطر علاقه زیادي داشت. پیغمبر اکرم ﷺ هرگز تغییر حال نداد و با همان تواضع و فروتني که در اوایل داشت در اواخر نیز زندگي میکرد و با آن موقعیت با ارزشي که داشت هرگز امتیازي که ارزش اجتماعي او را نشان دهد براي خود قائل نشد. روي تخت نه نشست و صدر مجلس را بخود اختصاص نداد و هنگام راه رفتن جلو مردم نیفتاد و هرگز قیافه فرمانروایي و حکمراني بخود نگرفت. گاهي که در مجلس عمومي در میان یاران خود بود و اشخاص ناشناس براي ملاقات او میآمدند، آن حضرت را نمي شناختند و اهل مجلس را مخاطب ساخته میگفتند: که امتان پیغمبر خدا هستید؟ آنگاه مردم پیغمبر اکرم ﷺ را نشان میدادند.

پیغمبر اکرم ﷺ در عمر خود هرگز بکسي دشنام نداد و سخن بیهوده نگفت و قهقه نخندید و عملي سبك و بي ارج انجام نداد. بتفکر و تامل علاقه داشت و بسخن هر دردمندي و به اعتراض هر متعرض گوش میداد. آنگاه به پاسخ اش میپرداخت و هرگز سخن کس را قطع نمیکرد، فکر آزاد را نمي کشت، ولي اشتباه هر مشتبه را روشن ساخته روي زخم دروني وي مرحم میگذاشت.

پیغمبر بزرگوار اسلام محمد ﷺ مهربان و بسیار رقیق القلب بود؛ ولي هرگز در مجازات بدکاران خود را نمي باخت و در اجرا میان دور و نزدیك و اشنا و بیگانه فرق نمیگذاشت.

در سرقتي که از خانه یکي از انصار شده بود، یك یهودي و یك مسلمان متهم بودند جمع کثیري از انصار پیش انحضرت آمده فشار اوردند که براي حفظ آبروي انصار... مردم یهود مجازات شود؛ ولي آن حضرت چون حق را به خلاف آنچه میخواستند تشخیص داد، آشکار از یهود طرفداري کرده و مرد مسلمان را محکوم به مجازات نمود.

در گیرو دار جنگ بدر که آن حضرت بتسویه، صفوف لشکر اسلام میپرداخت، به یکي از جنگجویان رسید که قدري جلوتر از دیگران ایستاده بود آن حضرت با عصایي که در دست داشت به شکم آن مرد فشار داد که عقب تر ایستاده صف را راست نماید. مرد جنگجو گفت: یا رسول الله! بخدا قسم شکمم بدرد آمد باید قصاص بکشم. حضرت عصا را بدست وي داد لباس را از شکم خود کنار زدو فرمود قصاص کن! مرد جنگجو دویده شکم انحضرت را بوسید و گفت من میدانم که امروز کشته میشوم میخواستم بدین وسیله ببدن مقدسات تماس حاصل کنم، پس مرد به جنگ حق بر باطل رفت و شهید شد.

****

کرتی پرتی

عبد الله گل «ریان»

په یوه میلیشیا کې چې زما خپلوان، دوستان، د سیمې خو مخور کسان او خلور تنه هغه مجاهدین چې د روسانو په وړاندې په خورا میړانه جنګیدلي وو حاضر وو، له هرې خوا خبرې کیدلې خو یوه مجاهد په نیولي غږ وویل: راځئ چې د هغو شهیدانو روح ته یوه دعا وکړو کوم چې د ۱۳٦۲ کال د وري په میاشت کې د روسانو په لاس په همدې سیمه کې شهیدان شویدي، دعا وشوه خو مجاهد د هغوی د شهادت کیسه داسې وکړه:

مونږ په هغه کلي کې وو، راپور مو واخیست چې د روسانو قوه را روانه ده مونږ هم دې نژدې کلي ته راغلو یو ځل مو وویل راځئ چې لاړ شو او سیمه خوشې کړو خو بیا مو پریکړه وکړه چې نه همدلته جنګیږو، مونږ خو هوډ کړی ؤ چې جهاد کوو، ملاوې مو تړلې او راکټ مو په اوږه کړی، نو اوس چې روسان له روسیې راغلي، افغانستان یې نیولی تر کابل او غزني را تیر او نن زموږ د کور په دروازه کې راسره جنګیږي نو ځرنګه مونږ د کمزوالي په بهانه دا ځای ورته پریږدو او تري لاړ شو. هر چا سنګر ونیوه، زه او یو بل مجاهد هغه کورته لاړو، د کور په بام مو سنګر په نښه کړ روسان راغلل د ځنځیر خپور په څیر یې سیمه ناولي کړه په هغه ځوا چې مجاهدین یکي ور ټانګونه راوګرځیدل کلي ته راغلل په همدې پلونو راځغل خو څو څله مې ولیدل چې زما په مرمی د هغوی یوې خاورو ته ورسیدلي هر لورته د ډوسلو کړ سهاري ؤ چې زما ملګري ولګید، شهید شو ټوپك مي سنبال کړ او بیا ورته ځګون کیږد شوم وروسته زه په پښه ولګیدم، پښه مي راپسې مړه شو، کښته وښویدلم داسي ځای مي ونیو چې په جنګ کې په بله کوټه کې د همدي کور سپین ږیري او سپین سري ناست وو، تر سوي ورې کلکینې مي کښل د کور د سراي دروازه ووشتل شوه او ورسره د ټانګ د توپ میل ښکاره شو په ډوروکي دري تنه دننه راغلل خان مي ګوښه کړ په «کړتو پرتو» یې پوه شوم چې روسان دي ځان مي ورته سم او تر قیر لاندې مي راغلل لومړي مي هغه کس د ټوپك نښه کړ چې د اورو سري د ډګروالی ګواهي ورکوله زما له فیر سره سم یې شا ځمکي ته برابره، سرئ کښته او پښې یې لوړي شوي ورسره یې د خوسکي په څیر چیغه وکړه په همدې کور له لرې هم فیرونه کیدل خو ونه پوهیدم د څه شي په پارچو ولګیدم، سترګه مي شهیده او په مخ مې وینې را بهاندې شوي. دا د جنګ ورووستي شیبې وي کله چې نور مجاهدین را رسیدل زما دې خوږې سترګي درد درلود خو دا ونلي سترګي مې هیڅ درد نه درلود... جنګ پای ته ورسید. شهید ملګري مې خاوره او زه یې لرې روغتون ته ورسولم وروسته خبر شوم چې روسان د همدې ورځې د کسات اخیستلو له پاره بله ورځ بیا راغلل چې روح یې درلوده هغه موجود یې د مرمې نښه وه او په دې دوو درېو ورو کلیوکې هغه وخت اتیا کسان ددین په لاره کې قرباني شول...

دا یوه د هغه مجاهد کیسه، کیسه خوږه وه ځکه یکې قرباني وه او میړانه، خو زما فکر په را وروسته پیښو را وځرخید او مې ویل چې د افغانستان ځپلی ځپلی خاوره د شهید د وینې ښکلا لري، هر تپي او معیوب مو له دې کبله چې د دین د دفاع په لار کې یې هر تپ یو سند دی، د ښار خلې دي خو بیا څه وشول، د څوکۍ او قدرت، تنظیمي او شخصي ګټو د تر لاسه کولو په منظور مو هیواد وران او جهاد تورن بدي شو، خلك وکړیدل، عزتونه لوټ شول، لارې د غلو شوې، وینې ارزانه او سرونه بې بیې شول خلکو له تنظیمونو ځخه مخونه واړول د جهاد په پیل کې چې تنظیمونو ته خومره خلکو مخونه اړولي ووبه څخونو بدل شول...

تر څو یو ځل بیا لوی خدای«ج» په دې ملت رحم وکړ د طالبانو د تحریك په نوم او عنوان یې یوه صالح ټولې جوړه او را وپاځوله. هغه څه یې وکړل چې ونیو یې، داسې راته ویږدله چې رښتیا هم هیواد مو خپل دي، جهاد مو کړی روسان مو شړلي او کمونیزم مو مات کړي دي او اوس به بیا هم لوی خدای«ج» زموږ په عملونو راسره کره کوي که مو ددې سوکاله ژوند شکر په ځای کړ هیواد به مو ټول له فتنې ځخه ژغورلې او ژوند به مو د تدین او سوکالي په فضا کې تیریږي او که نه نو اعمال به مو راپاندې عمال وي.

د شریعت تبصره

آیا دا به ډېر د شرم ځاي نه وي چې غل او لوټمار د چور او تالان لپاره بیا فرصت غواړي؟

د افغانستان مؤمن او مجاهد ملت او تیره بیا د کابل ښار زوریدلي او جګروزپلي خلك ددې حقیقت شاهد دي چې د رباني - مسعود او د کشتمند اجیرو ملیشو (وحدت ډلګي) د خپلو واکمني په اوږدوکي د کابل بې ګناه ښاریان د باروتو په سرو لمبو وسېځل، او هره ورځ به په لس ګونو بې ګناه خلك وژل کیدل، داسي شیبه نه وه چې کومه یې وژله مور د خپل ځوانیمرګ زوي په غم اوښکي تویې نکړي او د خپل شهید زوي په جنازه ماتم ونه کړي. د کابل ښاریان هره ورځ د یو ناتار د رامنځ ته کیدو شاهد وو.

د بې وزلو پدې خاوره کې په زرګونو عفتونه لوټ شول، ملي شتمنې تالا شوې، میندې بورې شوې، میرمنې کونډې شوې، خویندې وراري شوې او ماشومان یې پلار او بې موره شول...

تاریخ به هیڅکله له دغه حقایقو ځخه سترګې پټې نه کړي او نه به ملت دا مجرمین وبښي.

وهل او ټکول ددې ښار په هره کوڅه او هره ځلور لارې کې یوه عادي پیښه ګڼل کیده، غلا، چور، تالان، د یو او بل په نامه د بیت المال او دولتي ادارو ځخه د پیسو اخیستل، د عام المنفعه وسایلو په خپل شخصي ګټه استعمالول، د دولتي وسایلو او سامان آلاتو لوټ، د خوار او غریب ملت پرستوني پېښه ایښودل اود شهید، کونډې او یتیم په نامه په راټولوشوو پیسو د شخصي کورونو، ودانیو، هوټلونو او سرایونو اخیستل د رباني او مسعود د ډلګي په برخه رسیدلي وو.

ددې سره سره بې حیایي او فحاشي دومره زیاته شوي وه چې حتي پخوا هم پدې ښارکي یې ساري نه ؤ لیدل شوي ددغه بدبختیو سره سره د کابل ښاریې د خپل منځي جګړو دګر وګرځاوه او د هیواد زړه یې په کنډوالو بدل کړ د لار او کوڅو ځخه یې هغه نا اهله او بې بندو باره کسان راټول کړل چې په ټولنه کې یې په ډېر بدنامه شهرت درلود او د هغوی پواسطه یې خپلې دلې تپلې جوړې کړې ځکه چې اصلي مجاهدین د دوی له صفونو ځخه وتې وو او پرته د قماربازانو، غلو، لوټمارو او بې حیا خلکو ځخه دوی سره څوك پاتې نه شول. دې نا اهلو داسې کارونه وکړل چې تاریخ پرې شرمیږي چې همدا کارونه په ټولنه کې د کرکې او نفرت باعث شول او خلکو له تش په نامه دولت ځخه فاصله ونیوه.

دا چې خلك دوو سپرموته رسیدلي وو، په هیواد کې یې د یو نوي تحول په هیله شپې سبا کولې همدا ؤ چې د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریك په خوځیدو شو، د ملت پرګنو ته یې لاره وکړه، د ملت ملاتړ یې تر لاسه کړ او په ډېر لږ وخت کې یې د هیواد ډېري برخې تر لاسه کړې او هلته یې د اسلام سپیڅلي نظام نافذ کړ د کابل ښاریې د ظالمانو واکدارانو له سلطې ځخه آزاد کړ. د هرچا سر او مال له تیري او تجاوز نه وژغورل شو، د غلا، وژنې، لوټماری او په پردي ناموس د تیري مخه ونیول شوه، اسلامي شریعت نافذ شو، د جهاد د ثمرې، د آرماني تیپانو زخمونه تکور شول د کونډو او یتیمانو اوښکي پاکې شوې، د اسلام د مقدس بیرغ تر سیوري لاندې آرام او مطمئن ژوند پیل شو د سمتي، ژبه ایزو او توکمیزو اختلافاتو لمن ټوله شوه خو د پردیو ګوډاګیانو او د اسلام او ملت د سوګند خوړلو دښمنانو په افغانانو باندې دا هوسا ژوند پیرزو نه کړ او د خپلو بادارانو د خوشحالولو او د هغوی د ګټو د خوندي کولو لپاره یې یو ځل بیا په ملت اوربل کړ، رباني - مسعود، د کشتمند او ګلم جم ملیشو په شمال کې نوي سنګر پرانیست او په ملت یې یو ځل بیا د خپلې ناروا پاچاهۍ خیالي خوبونه ولیدل او وېې غوښتل چې خپلې زنګ وهلې چړې یو ځل بیا په ایراني، روسي او هندي «بلونو» تیرې او ددې ملت پرستوني یې را کاږي.

آیا دا به ډېر د شرم ځاي نه وي چې غل او لوټمار د چور او تالان لپاره بیا فرصت غواړي!... پدې ځلور نیم کالو کې یې دې ملت ته پرته له غم، بدبختي، د عزت او شرف لوټولو ځخه بل څه پریښودل؟ ددې ملت په کوم درد دوا شول؟ هیواد یې کوم حالت ته ورساوه؟ چې د کابل ویجاړي کنډوالې ددوی د خیانتونو ګواهي ورکوي.

ددې ملت په وړاندې دا خلك محکوم دي او دا ملت نور نه غواړي چې یو ځل بیا په سرو لمبو وسوزي او په خپلو وینو ولمبیږي. دوي هوسا ژوند غواړي او هیڅکله به د ملت او خاورې خاینانو ته ددې اجازه ورنه کړي چې د دوی ټاټوبي د بدبختي کندې ته وسپاري، دوی آزمویل شوې، ملت ته هیڅ مخ نه لري. نو دا زوریدلي ملت به ځنګه د تاریخ دردونکي پیښې هېرې کړي او خپل ژاره ټپونه به بیا تازه کړي، نه، دا هیڅکله امکان نلري، ملت د دوی اصلي څهره پیژندلي ده دوي خاص د خپلو روسي او ایراني بادارانو د رضایت لپاره منډې ترړي وهي چې انشاء الله په همدې مزدوري او چوپړ کې به نور مخ له دې وطن ځخه ورك او افغان مومن ملت به د تل لپاره د دوی له شر ځخه خلاص شي. او په خپلواك او آزاد هیواد کې به د هوسا او نیکمرغه ژوند له نعمت ځخه برخمن شي.

ان شاء الله

ښکلي ښکلي دي

وفايار

گران افغانستان دي افغانان يې ښکلي ښکلي دي
كور د مسلمان دي مؤمنان يې ښكلي ښكلي دي
خاوره د ننگونو ، غيرتونو ، عزتونو ده
عزم اراده يې ټينگ ايمان د همتونو ده
لوړ كړي پروازونه شاهينان يې ښكلي ښكلي دي
كور د مسلمان دي مؤمنان يې ښكلي ښكلي دي
دا د بت شكن سلطان محمود او ميرويس خان كور دي
دا د احمد شاه غازي اكبر او ايوب خان كور دي
وګورئ تاريخ ته چي مشران يې ښكلي ښكلي دي
كور د مسلمان دي مؤمنان يې ښكلي ښكلي دي
دلته د غليم په وړاندي شوي جهادونه دي
دلته وركړل شوي هر دښمن ته شكستونه دي
ځاي د ننګياليو دئ غازيان يې ښكلي ښكلي دي
كور د مسلمان دي مؤمنان يې ښكلي ښكلي دي
دلته په لكونو ميليونونو اتلان اوسي
دلته لوي تورزن لوي حق پالونكي باتوران اوسي
د توري او قلم ټول خاوندان يې ښكلي ښكلي دي
كور د مسلمان دئ مومنان يې ښكلي ښكلي دي
څو څو واره دلته انګريزان په ګونډو شويدي
داشان چنګيزيان او سره روسان په متو شويدي
ښيغلي يې پتمني دي ځوانان يې ښكلي ښكلي دي
كور د مسلمان دي مؤمنان يې ښكلي ښكلي دي
دا وطن ودان دي د اسلام او د قرآن په نوم
سر قربانوو د پاكي مبني پاك ارمان په نوم
وايي «وفايار» چي عالمان يې ښكلي ښكلي دي،
كور د مسلمان دي مؤمنان يې ښكلي ښكلي دي

ديو چمن گلان

نشاط

د لوي ايشيا په زړه كي ، يو موټي افغانان يو
د هر غليم په سر كي، موږ تندر او توفان يو
هر څوك چي زموږ خواته، په بدو سترګو ګوري
سترګي يې را باسو، فاتح په هر ميدان يو
لندن مو شرمولي، مسكو مو لړزولي
مرتد مو خفلولي، سر لوړي تر آسمان يو
توپك مو دي په غاړه، ګرځو په غرو رغوكي
د خداي رضا لپاره، سنګر ته راروان يو
دا ژوند مو نذرانه ده، د خداي په نامه جارشي
مين موږ په اخوت يو، د سولي پتنګان يو
په جنګ او په جګړوكي، ملت تيي تيي شو
دردونوته ټكوريو، ټپونوته درمان يو
دا درست تري خبر دي، چي موږ مهاجم نه يو
د خپل دين او وطن نه، نامتو مدافعان يو
سلطان مو زيادېږي، محمود مو بتشكن ؤ
زامن د احمدشاه يو، وارث د ميرويس خان يو
رنګونه كه بيل بيل وي، قومونه كه څو خيل وي
دا رمز د معرفت دي، د يو چمن ګلان يو
پښتون او تاجك نه يو، نه ترك نه هزاره يو
يو نوم لرو پري وياړو، د لوي افغا ن بچيان يو
نصرت د الهي دي، زموږ بري حتمي دي
طالب د شريعت يو، مئين په سپين قرآن يو

دادب مرغلري

هغه به طالب وي

عبدالعزيز «راهي»

چيرته چي كوم ځاي كي كوم يو سر لګي
والله چي زما د زړګي سر لګي
سروي د وطن د حقيقي بچي
اورمي به الماس او په سره زر لګي
غير كي د وطن چي رورل شوي وي
ګوره هم يې سر او هم ټټر لګي
وي له ارمانو او خاطرو ډكي
هم د پلار او مور ياني نظر لګي
هغه چي بي غږ د پيدايښت شوي
يو څو د خلقت ښكلي اثر لګي
بيا چي مدرسه كي د اسلام پوه شي
هغه خزانه وي د بشر لګي
روند وي چي بينا شي د الله په نور
دغه د قرآن د نورو سيېر لګي
څوك چي د ملت په درد دردمن اوسي
دا به وي طالب چي په سنګر لګي
اورچي بلوي په خپله سوزي به
شعركي د «راهي» دا متل بر لګي

سعی و سعادتها

هاشمی

سعي و تلاش و كار ، كليد سعادت است
پويندگي و جنبش انسان شرافت است
بي سعي و كار و جنبش و كوشاني و تلاش
نسل بشر ضعيف و ذليل و ملامت است
اي قائد و زعيم و جلو دار اين ملت
اين بالهاي مرغ هماي قيادت است
در كاروان بخت ملل ساربان كيست
كو ضد جهل و شومي فقر و كسالت است
بېر خيز و تيغ تيز جواهر فشان علم!
كش بر گلوي جهل كه اين ديوي آفت است
هوشدار اي زعيم و جلو دار اين كشور
ز آفات شوم جهل كه اين مرگ ملت است
عزو شكوه و نام نكو اندرين جهان
آنرا نصيب است كه در فكر امت است
افراد زير چتر شما جوهر شماست
بنگر كه جوهران شما را چه شوكت است
بي شك و بي گمان صدف ملت است زعيم
بنما چه پروريده صدف ! درچه قيمت است
خلص بهاي جامعه و ملت و وطن
اي «هاشمي» ز جوهر سعي زعامت است

ميړنتوب

نسل منيوه وال

هر ملت چي ټينګ ساتلي خپل مقام دي
خود د ريغ يې ور د وياړ او احترام دي
چي بيرغ يې د غيرت دي پورته كړي
د بخت ستوري يې ځلانده شاندام دي
چي يې خوله د استعمار ده ماته كړي
باتي شوي يې تاريخ د ننګ او نام دي
جا چي سر د خپل وطن په نامه ايښي
تل پر هغوي مو درود او صد سلام دي
اي نسلا ميړنتوب د ژوند جوهر دي
د بي ننګو سره هر صفت حرام دي

كسات

د مناغلي سراجي د غزل په اقتفا

بزال

د كونډو، رنډو سر نه ولي وري په غلا پروني
د شهيدانو د سرو وينو د بها پروني
د بيت المال د لوټونكو ميره چيرته يې دري ؟
دا د ماتم لاندي په اوښكو د ژړا پروني
تا جريه پاك پرونو نور داغونه ولګول
درځني مع په حيا پټ كړو د هوا پروني
د شريعت شال كي د حسن ناوي پته شوله
نه شوه له نورو زلفو لري د ريا پروني
اي د وطن اصيلو خوېندو خير داري اوسي
زيات د حسينو شي مناسبت په خوشما پروني
د اسلامي كلتور كاروان په خوځيدو راغلي
د مسلمانو خوېندو خوښ په اروپا پروني
چي روند نظرو ظالمانو ته يې واخلي كسات
طالب په كريك باخولي ناهښا ! پروني
د سراجي غزل سراج د غزلونو سكاري
چي بي انځور كښلي د ښكلو د زيبا پروني
«بزال» چي ګوري منظري د رنګينو پرونو
لا ورته زيات قدر له سرو سپينو د سيا پروني

وطنه تاته وايم

ابراهيمي

دا ستا له دنګو دنګو غرونو شمه خار وطنه !
باتي به نشي ستا دښمن به كړو مردار وطنه !
كه توپ، ټانك طياري نشته نو ايمان لرو موږ
په خپلو وينو به دادښتي كړو ګلزار وطنه!
تر څو بيرغ د اسلام پورته پدي خاوره نكړو
آرام مو نشته كه ماښام وي كه سهار وطنه !
كه مو ځانونه قربان نكړل افغانان به نه يو
غليم به نه پريږدو هيڅ وخت پدغه لار وطنه
چه په ځيګر كسي مو پرته د پاك قران مينه ده
پدغه لاره كسي مو مرګ نه نشته دار وطنه
مينه دي شنه راسره هير به مي هيڅكله نشي
ځان به قربان كړو كه خزان وي كه بهار وطنه
هيواده نه چي دا غښتلي زامن لري پروامه كوه
ټول غليمان به درنه ليري كړو يو وار وطنه !
«ابراهيمي» وائي شعرونه د اسلام په مينه
هري خواته به راشي سپين بهار وطنه !

تيكري

د خپلي سخي خولي ...رتني دي
يا سر پريكري تينګ ميرني دي
چي نه د تنګ دي او نه د تورو
تيكري ور واخلي د نغري دي

نظام خانواده در اسلام ۸

خانواده و پرابلم های اساسی

پوهيالي ليلما «يما»

خانواده يكي از كانونهاي فعاليتهاي انسان به شمار ميرود و طبعاً در محل و يا مرجعي كه در آن فعاليت صورت ميگيرد، يك سلسله پرابلم ها ، معضلات و مشكلات بروز ميكند. اگر همين فعالتيها و تحركات را به صورت منظم و آگاهانه سمت دهيم، بر پرابلم ها و مشكلات غالب مي آييم در غير آن اين مشكلات رنج و عذاب خانواد را باعث ميگردد .

گرچه در حل معضلات خانواده گي همه افراد خانواده سهم مشترك دارند ، اما مهمترين نقش را در چنين مواقع كساني بر عهده دارند كه بار رهبري خانواده را بر دوش ميكشند .

براي حل پرابلم ها نخست بايد آنها را منقبندي كرد . در منقبندي پرابلم ها دوگونه مشكلات مشخص ميگردد :

۱ - پرابلم ها و مشكلات عادي و روزمره،

۲ - پرابلم ها و مشكلات غير عادي و وارد شده از بيرون .

پرابلم ها و مشكلات عادي و روزمره آنعده پرابلم هايي است كه در زنده گي خانواده گي هر خانواده وجود دارد و بابه كار بردن يك تدبير درست و سنجيده شده ميتوان آنها را حل نمود. طور مثال : تولد شدن يك طفل در يك خانواده و بزرگ ساختن وي يك سلسله پرابلم ها را با خود به همراه دارد كه به اثر دقت والدين همان پرابلم ها بر طرف ميگردد . و يا فرزندان در دوران نوجواني و جواني ضرورت به تحصيل دارند كه در قدم نخست زمينه، آن از طرف والدين براي ايشان مساعد ميگردد . و يا هم وقتي كه ازدواج ميكنند يك سلسله پرابلم ها را با خود دارند كه همه، آن ناشي از جريان عادي و روزمره، زنده گي بوده و به اثر مساعي مشترك والدين و ديگر اعضاي خانواده مرفوع ميگردد .

بسياريها فكر ميكنند زنده گي سعادتمند عبارت از زنده گي هست كه در آن مشكلات و پرابلم ها وجود نداشته باشد، در حاليكه اشتباه ميكنند . چرا كه چنين يك زنده گي نه ممكن است و نه ميسر . پس براي به وجود آمدن پرابلم هاي زنده گي بايد آماده گي قبلي داشت و راه حلهايي را به شيوه اسلامي كه در جهت تكامل خانواده نيز مفيد واقع ميشود، جستجو كرد .

هر قدر انسان بتواند پرابلم و مشكلات عادي و روزمره، خويش را به صورت علمي و منطقي حل نمايد به همان اندازه زنده گي وي صورت آگاهانه و تكاملي را به خود گرفته و روز تا روز زيبا و دلپذير ميگردد .

اما ، آنانی كه با زنده گي برخورد آگاهانه ندارند و از روي منطق در حل پرابلم هاي خود نميكوشند، كوچكترين پرابلم ها برايشان بزرگ و لا ينحل جلوه ميكند . لذا با رنج و عذاب هميشه گي دست و گريبان هستند و زنده گي هم برايشان غم انگيز و ملال آور است .

نوع دوم پرابلم ها و مشكلات . پرابلم ها و مشكلات غير عادي و وارد شده از بيرون است و صورت مرضي و انحرافي دارد و به اثر عوامل خارجي ناشي از محيط طبيعي، محيط كار، محيط تفريح ، محيط آموزشي و پرورشي، كوچه ، محل ، گذر و غيره ايجاد ميشود .

براي جلوگيري از بروز همچو پرابلمها بر كساني كه رهبري خانواده را بر عهده دارند مخصوصاً والدين؛ لازمست تا تدابير قبلي در زمينه اتخاذ نمايند .

مثال خيلي ساده مي آوريم : با گرم شدن آب و هوا زمينه براي نشو و نما و شيوع و انتشار امراض ساري مساعد ميگردد كه والدين با تهيه، غذا به صورت صحي از مصاب شدن اعضاي خانواده به بيماريهاي ساري ميتوانند جلوگيري به عمل آورند .

